مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۹/۲۰

شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه

اته دیرشمه برخه

دریم فصل

تلفات:

له کابل څخه تر جلال آباد پورې د انګرېزانو پوځ ته د رسېدلو تلفاتو په باره کې، په زیاترو تاریخي متونو کې مبالغه سوې ده. که څه هم چې د تلفاتو شمېر د موضوع پر اهمیت او ماهیت باندې کومه اغېزه نه لري. انګرېزانو پر افغانستان باندې ظالمانه یرغل کړی، د هغوی په مقابل کې پاڅون سوی او هغوی بالاخره ماته کړې ده او پر دې مسله باندې هیڅ ډول اختلاف نسته. خو د تاریخ شاګردانو ته باید د هري موضوع د کم او کیف په برخه کې تر وسه وسه سم معلومات ورکړل سي. مرحوم عبدالحی حبیبي انګرېزانو ته د رسېدلو تلفاتو شمېر دېرش زره کسان ښیي. (حبیبي ص ۲۸۳) مرحوم غلام محمد غبار وایي د دېمن څلوېښت زره عسکر ووژل سول او څو زره یې د غازیانو له خوا محاصره ول. (غبار ص ۵۶۶) میرزا یعقوب علي خافي خو دونه مبالغه کوي چې وایي د یوې هفتې په اوږدو کې د انګرېزانو ۱۲۰ زره افسران او سپاهیان قتل سول او یوازې یوولس تنه یې پېښور ته ورسېدل او هغوی هم په پېښور کې جهنم ته ولاړل. البته خافي له پېښو څخه دونه بېخبره دی چې د شاه شجاع د وژل کېدلو پېښه د مکناټن له قتلېدلو څخه مخکي بولي. (خافي جلد اول ص ص ۱۴-۱۵)

البته زموږ مورخینو او لیکوالانو باید دا فکر کړی وای چې د شېرپور په عسکري قشله کې، دېرش زره، څلوېښت زره او حتی ۱۲۰ زره عسکر، خدمه، وسلې او مهمات، آسونه او لوازم څرنګه ځایېدلای سي؟ موږ مخکي د ډاکټر براېډن په خاطراتو کې ولوستل چې هغه پنځه تنه نوکران درلودل او هر یوه یې یو آس او یابو درلودی. که یوه ډاکټر پنځه نوکران درلودلي وي نو د عالي رتبه صاحب منصبانو، مکناټن او جنرال الفینستون سره به څو تنه نوکران ملګري ول؟ او آیا په دې شمېر خلک په یوه قشله یا حتی دوو دریو قشلو کې ځایېدلای سي؟ که څه هم چې د برتانوي عسکرو او د هغوی د تلفاتو د شمېر په باب خو لیکونه او یاداشتونه ډېر زیات دي خو د کمپنۍ مخصوصي او یا سِري کمېټې ته د ګورنرجنرال د ۱۸۴۲ کال د فبروري د نولسمي نېټي رپوټ یو څه وضاحت ورکوي:

«... له هغو اسنادو څخه چې موږ ته رسېدلي دي، د کمپنۍ محترمو غړو ته به معلومه سوې وي چې د ډسمبر پر اته ویشتمه، مېجر پوټینجر په جلال آباد کې کپتان میګریګور ته ولیکل چې په کابل کې له مشرانو سره د موافقې جزیات له بشپړ سوي نه دي. د ډسمبر پر نهه ویشتمه مېجر پوټینجر او تورن جنرال الفینستون کپتان میګریګور او تورن جنرال سر رابرټ سېل ته ولیکل چې په کابل کې زموږ د موافقې د موادو په اساس، باید تاسې له جلال آباد څخه پېښور ته حرکت وکړئ. د جنوري پر څلورمه یې ولیکل چې موږ د جنوري پر شپږمه له کابل څخه حرکت پیل کوو او د جنوري پر شپږمه پوځیانو خپل مارش پیل کړ. تر هغه ځایه چې موږ ته معلومه ده، زموږ پوځیانو نه خوراکي مواد او نه خیمې او وسایل ورسره درلودل او په غرونو او درو کې د دښمن له حملو سره مخامخ سول. له دوو دریو مارشونو څخه وروسته دوی روحیات له لاسه ورکړل، بې نظمه سول او بالاخره ټول تباه سول.

موږ ته د خپلو هغو پوځیانو چې له کابل څخه یې حرکت کړی دی دقیق شمېر معلوم نه دی. مګر دونه پوهېږو چې له دې څخه مخکې په نورو حملو او جنګونو کې باید زموږ د پوځیانو شمېر ډېر کم سوی وي. او د هغو پوځیانو شمېر چې له کابله یې حرکت کړی او د جنګ او حرکت کولو توان یې درلودی ایله څلورو زرو تنو ته رسېدی... »
(پیپرز ص ۱۳۲)

د مکناټن په هغه لیک چې مخکې یې میګریګور ته لیکلی وو، هم څرګندېږي چې په قشله او بالاحصار کې د ټولو پوځیانو او په هغوی پورې د مربوطو کسانو او نوکرانو شمېر، پنځه لسو زرو ته رسېږي چې څلور زره یې باید عسکر او باقي پاته یې نوکران، ښځې او ماشومان وي. په دې ترتیب موږ ګورو چې په ارقامو کې تر اندازې زیات توپیر موجود دی او دومره لوی توپیر د موضوع د کم او کیف په برخه کې سوالونه پیدا کوي.

لکه څرنګه چې ډاکټر براېډن په خپلو خاطراتو کې اشاره ورته کړې ده، له کابل څخه تر جلال آباد پورې په لاره کې یې ولیدل چې ډېر زیات کسان، په تېره بیا ټیپیان، ښځې او ماشومان پاته سول. موږ د سیتارام په خاطراتو کې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لولو چې دغه کسان ژوندي ونيول سول او په کابل کې د غلامانو په بازار کې خرڅېدل. سيتارام، د نورو ټولو صاحب منصبانو د خاطراتو په خلاف، ليکي چې له کابل څخه د حرکت کولو په لومړي او دوهمه ورځ حملې نه دي وربانديسوي او حملې په دريمه ورځ وربانديپيل سوې. په داسي حال کې چې ډاکټر براېډن او نور ټول په خپلو خاطراتو کې وايي چې له کابل څخه د حرکت سره سم حملې پيل سوې او ډاکټر براېډن خو د هغه صاحب منصب نوم يادوي چې ايله له قشلې څخه يې حرکت کړی وو چې وويشتل سو. سيتارام ليکي:

«... زه د سر پر يوه خوا باندي د توپک په مرمۍ ولګېدم. له دې وروسته نو په ځان نه يم پوه سوی او چې پر هوښ راغلم نو ګورم چې پر يوه آس باندي تړلی يم. سر مي يوې خواته او پښې مي بلې خواته ځړېږي او د جنګ له صحنې څخه د کابل خواته وړل کېږم. زه پوه سوم چې دا سړي مي کابل ته وړي او هلته مي د غلامانو په بازار کې خرڅوي. ما هغه ته زارۍ وکړې چې يا مې ووژني او يا مي په چاړه غاړه را غوڅه کړي. هغه ته مي په پښتو او هم په خپله ژبه ښکنځل وکړل چې ګوندي په غوسه يې کړم او مړ مي کړي. هغه څو ځله په خپله سپلاوه تهديد کړم خو زه نه چوپ کېدلم. کله چې دی پوه سو چې زه له مرګه نه بېرېږم نو يې راته ويل چې که نه چوپېږې مسلمانوم دي او زه هم چوپ سوم.

څه وېروونکې صحنې مي په لاره کې وليدې! پښې او لاسونه له واورو څخه راوتلي. اروپاييان او هندوستانيان په واورو کې ښخ سوي ول. آسونه او اوښان ټول مړه ول! داسي صحنه وه چې په ژوند به مي هېره نه سي. کله چې د آس خاوند وليدل چې زه مرګ تر ژوند بهتر بولم نو زړه يې راباندي وسوځېدی. له آس څخه يې خلاص کړم او پر اوښ باندي يې وتړلم. که څه هم چې دلته هم ډېر په تکليف وم خو دا چې پريابو باندي ځړېدلم تر هغه مي دا حالت مي بهتر وو. هغه افغان زما پر زخم باندي واوره وموښل او درد مي کرار سو. مرمۍ مي د سر پر پوست باندي لګېدلې او پوست يې څيرلی وو. موږ په څلور يا پنځه ورځې کې کابل ته ورسېدلو. په مايی افغاني جامې واغوستلې او د غلامانو په بازار کې يې خرڅ کړم. شته منو افغانانو هندوستانيانو ته ارزښت ورکاوه او له هغوی څخه يې د نوکرانو په توګه کار اخيست. زه ښه جګ لوړ او غښتلی وم او په ۲۴۰ روپۍ خرڅ سولم. د عثمان بېګ په نوم يوه سړي را نيولم. د غلامانو په بازار کې مي نور هندوستاني عسکر او يو څو تنه اروپاييان هم وليدل. له اروپاييانو څخه د افغانانو د پوځيانو په روزلو کې کار اخيستل کېدی. څرنګه چې دوی ته يو څه شېرازي شراب هم رسېدل نو زموږ په څېر يې له سرنوشت څخه ډېر زيات شکايت نه کاوه.

په اروپاييانو کې مي يو صاحب وليدی، چې د کمپنۍ له پوځ سره يې اړه درلوده. ده زما سره يې خبرې وکړې او ويل يې چې سرکار به ډېر ژر د افغانستان د بيا اشغالولو لپاره يو لوی پوځ را وليږي او موږ ټول به وژغوري. زه ګومان کوم چې خپل نوم يې والان وښود. زما يې اوس نوم هېر دی خو د ده خبرې يو څه د زړه ډاډ راکړ. زما نوي بادار زما سره بد سلوک ونه کړ؛ مګر دا يې راته وويل چې که مي د ده امر نه مانه او يا مي د تښتېدلو هڅه وکړه نو بيا مي خصي کوي او په ډېره لوړه بيه مي بيرته خرڅوي او زما څخه به د حرم په ساتلو کې کار اخيستل کيږي. که ماته د والان صاحب خبرو يو څه د زړه ډاډ نه وای راکړی نو ما به ځان وژلی وای او يا به مي حتماً د تښتېدلو هڅه کړې وای. زه يې د محمدصفي په نوم يوه مولوي ته وسپارلم. مولوي به ماته کرۍ ورځ بد رد ويل او زه به يې بت پرست بللم. خو وروسته چې پوه سو چې زه غوارم د ده لعنتي ژبه زده کړم نو بيا يې زما سره ښه سلوک کاوه او کوښښ يې کاوه چې ما مسلمان کړي...» (سيتارام ص ص ۱۱۵-۱۱۶)

لکه څرنګه چې انګرېز صاحب منصب، سيتارام ته ويلي وه چې انګرېزي پوځونه به بيرته افغانستان اشغالوي او له دوی سره به مرسته کوي، همداسي وسوه او انګرېزان د پېښور او کندهار له لارو کابل ته ننوتل او د کابل له خلکو او د استالف او شمالي له اولسونو څخه يې کسات واخيست؛ مګر سيتارام ته يې مرسته ونه رسېده. سيتارام وروسته د يوه کاروان له مشر سره، د پنځو سوو روپيو رشوت په منلو، له شمالي څخه وتښتېدی او ځان يې په ډېرو خواريو بيرته هندوستان ته ورساوه.

په افغانستان کې د عمومي پاڅون د پيل او په نتيجه کې د برتانيې د پوځ د بشپړې ماتې او تباهۍ اصلي او عمده عامل پر دې هيواد باندي د انګرېزانو تېری او له پرديو او په تېره بيا له فرنګيانو او غيرمسلمانانو څخه د افغانانو ژور نفرت وو. په دې کې شک نسته چې د افغانانو عمومي پاڅون او د انګرېزانو د لښکر تباهي به نور هم ډېر زيات عوامل لري؛ خو که انګرېزانو هر څومره کوښښ کړی او هر څومره يې د اشتباهاتو مخه نيولې وای نتيجه به يوه وای. انګرېزان به، د نورو پرديو قدرتونو په څېر، حتماً وتلای او د افغانانو پاڅون به حتماً برياليی کېدلای. د انګرېزانو د پوځ د ژر ناکامۍ او تباهۍ يو مهم علت دا وو چې ګورنرجنرال لارډ آکلينډ د افغانستان په باب په هيڅ نه پوهېدی او د افغانستان نيول يې هم د نورو هيوادونو او سيمو سره يو شان يا ورته بللې ول. د دې دونه مهم ماموريت عمومي قومانده يې جنرال الفينستون ته وسپارله، چې له لومړۍ ورځې يې له دردونو څخه سم حرکت نه سو کولای او حتی د افسرانو په مجلس کې يې منظمه برخه نه سوای اخيستلای. جنرال له کاره لوېدلی او سياسي استازی مکناټن، چې تقريباً ټول واک يې په لاس کې وو، دونه په خپل قوت مغرور وو چې له کابل څخه يې په لوی لاس خپل ډېر قوي جنرالان او لوی قوتونه وايستل. دی هغه وخت خپلې دې اشتباه ته متوجه سو چې هيڅ شی ګټه نه کوله. د انګرېزانو پوځ، دا وخت، دونه روحيات بايللي وه چې د هيڅ ډول مړانې او غيرت تمه ورڅخه کېدلای نه سوای.

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

له مکناټن سره، د وروستیو خبرو په ورځ، د هغه مرستیال جورج لارنس او کپټان میکینزي ژوندي ونیول سول او د اکبرخان سره پاته سول. د غازیانو مشرانو فیصله وکړه چې جورج لارنس د انګرېزانو قشلې ته واستوي او له افغانستان څخه د انګرېزانو د وتلو په باب ورستیو شرایطو باندي خبري وکړي. جورج لارنس قشلې ته ولاړ او د ده له وینا څخه په ځرګنده معلومیږي چې انګرېزان څومره بې زړه سوي وو.

«... زه په قشله کې خبر سوم چې، د ډسمبر پر دیرویشتمه، چې مکناټن او د هغه ورسره ملګري ونیول سول نو له هغه سره پر بدرګه عسکرو باندي ډزي وسوې او هغوی سمدستي قشلې ته وځغستل؛ د خپلو صاحب منصبانو د ژغورلو لپاره یې هیڅ حرکت ونه کړ. کله چې دوی وځغستل نو د بدرګې له بلي ټولۍ سره، چې ضابط لي ګېپېټ یې مشري کوله، مخامخ سول هغوی هم له دې تښتېدونکو عسکرو سره یو ځای سول او خپل زړه ور صاحب منصب یې له ځانونو سره یووړ. موږ ته محمد اکبرخان وروسته وویل چې یوازې د موتي رام په نوم یوه راجپوت، چې د چپراسیانو جمادار وو، د مکناټن د ژغورلو لپاره، مخامخ، توره په لاس، را وځغستل او ځای پر ځای ټوټې ټوټې سو.
په قشله کې ماته عسکرو وویل چې مکناټن او د هغه ورسره ملګري ونیول سول او لاس تړلې یې ښار ته یووړل. دغه مبهم رپوټ، چې یو څو تنو ېرندوکو او بې غیرتو کسانو ورکړی وو، پوځي مقاماتو هم منلی او کافي بللی وو. یو سړی هم د حقیقت د معلومولو لپاره وانه ستول سو، هیڅ عسکر چا د څارلو او نظارت کولو لپاره ونه لېږل، هیڅ حمله ونه سوه او حتی یو ډز ونه سو په داسي حال کې چې په هغه وخت کې د دښمن پیاده او سپاره عسکر ولیدل سول چې د محمود خان د قلا خواته یې ځغستل او څو تنو صاحب منصبانو ماته وویل چې دوی له قلا څخه په دوربین کې لیدل چې په میدان کې دوه مړي پراته دي، چې باید د مکناټن او د هغه د زړه ور جمادار به وه؛ خو هیچا د هغو مړو د راوړلو لپاره هم هڅه ونه کړه. په دې توګه مکناټن په ، په سپینه ورځ، په داسي ځای کې چې زموږ د توپکو ډزي هم ور رسېدلای سوای، زموږ په مخ کې، ووژل سو. مړی یې په ښار کې وګرځول سو مګر موږ نه د خپلو ملګرو د ساتلو لپاره اقدام وکړ او نه مو پر خپل حیثیت او عزت باندي د دغه تیري د کسات اخیستلو لپاره عمل وکړ...» (لارنس ۱۳۷-۱۳۸)

د نومبر پر دوهمه، د پاڅون له پیل څخه بیا د انګرېزانو د پوځ تر بشپړي ماتي پوري هره ورځ انګرېزانو یوه ماته وخوړه او یا یې بد خبر واورېدی. داسي ښکاري لکه بدنونه او مغزونه چې یې یو ځای فلج سوي او له کاره لوېدلي وي. مکناټن، د ډسمبر پر دیرویشتمه، له اکبر خان سره د خپل مرګاني مجلس څخه مخکې، د ګورنرجنرال په نوم یو ناتمام لیک پرې ایښی وو. د دې لیک له متن څخه د مکناټن او د هغه د ټولو ملګرو بېچارګي او بې زړه توب ښکاره کیږي.

«... زه باور لرم چې پر پېښو باندي زما له مخکنیو تبصرو څخه به درته ځرګنده سوې وي چې ماته له مذاکراتو پرته بله لاره پاته نه وه. ما دا خپل ځانته معلومه کړې وه چې د یاغیانو مشران زموږ د بېچارګی په وضع خبر دي او دوی به هیڅ داسي شرایط ونه مني چې له افغانستان څخه زموږ وتل پکښې راغلي نه وي.

تر هغه ځایه چې ماته معلومات سوي دي، ټول هیواد زموږ په مقابل کې پاڅېدلی دی. زموږ ارتباطات له هري خوا سره قطع دي. هر حکومتي مامور، که موږ تنخوا ورکوو او که له شاه شجاع څخه تنخوا ترلاسه کوي، د نوي حکومت غوښتنه کوي. تر اوسه پوري ډېر زیات شمېر کسان، حتی د شاه شجاع ملکې مامورین، له کارونو څخه تښتېدلي دي. موږ څلوېښت ورځي له ډېر زیات شمېر کسانو سره، په ډېرو بدو شرایطو کې، د ډېرو ارزښتمنو کسانو د لاسه ورکولو سره، و جنګېدلو. موږ ښایي په دوو ورځو کې له لوږي هلاک سو. د ساړه ژمي اغېزې خو لا پرېږده، چې زموږ عسکر، په تېره بیا هندوستانیان ډېر سخت ورڅخه په تکلیف دي. ماته پوځي مقاماتو پرله پسې ویلي دي په دې پوځیانو موږ هیڅ نه سو کولای. زه باید په خواشینی سره درتهووایم چې زموږ له پوځ څخه هره ورځ عسکر د دښمن خواته تښتي. ما چې له افغانانو سره کوم شرایط لاسلیک کړي دي تر هغه بهتر مي نه سوای ترلاسه کولای. که څه هم چې زه پوهېږم چې که موږ تباه سو نو زموږ حکومت به حتماً زموږ کسات اخلي خو د دې پنځه لسو زرو کسانو ژوند هم پخپله یو ارزښت لري او باید چې په هره توګه وژغورل سي. موږ باید له افغانانو سره د دوستانو په حیث خدای په اماني وکړو او زه له دې امله راضي یم چې که له دې وروسته په دې هیواد کې هر حکومت منځته راځي هغه به زموږ سره د ښو اړیکو غوښتونکی وي.

موږ باید له افغانستان څخه د وتلو لپاره شرایط کښېږدو او له شرایطو پرته به وتل غیر عملي وي. دا حقیقت دی چې د شرایطو له منلو او د موافقې د کولو سره موږ د ټول هیواد له فتح کولو څخه منع کیږو او تر کومه ځایه چې زه معلومات لرم زموږ حکومت په هیڅ ډول مساعدو شرایطو کې هم دغه هدف نه درلود. مګر زه چې د هند د حکومت مالي وضعیت ته ګورم او ګورم چې موږ په مختلفو ځایونو کې پوځیانو ته ضرورت لرو نو په دې باره کې بیخي فکر نه سو کولای. که په دغه صورت کې لګښتونه د تحمل وړ نه وي... دلته جمله ناتمامه پاته سوې ده.

زه د دې پاڅون د عواملو په باب خپلو ټولو پخوانیو لیکونو ته اشاره نه سم کولای. تر دې خبري چې را تېرسو چې دا خلک له لویه سره پاڅون او بغاوت ته تیار ناست دي؛ موږچې د فاتحینو او د بل مذهب درلودونکو خارجیانو په حیث دې هیواد ته راغلو، له لومړۍ ورځي د خلکو، په تېره بیا د هغوی د مشرانو، ښه نه راڅخه راتلل او په کرکه یې راته کتل. په داسي حال کې چې په موږ کې ځینو کسانو داسي کارونه وکړل چې په لوی لاس یې هم دا حساس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلک پاڅون ته وپارول. د شاه شجاع مغرور وضعیت د اشرافو او مشرانو خوښ نه وو. د دې تر څنګ هغه اقتصادي اقدامات، چې د ضرورت له مخې وسول، خصوصا پر خلکو ښه ونه لګېدل.
د دې پاڅون په جریان کې، زه هر وخت، د خپل مرستیال جان کانلي له لارې، چې تل به په بالاحصار کې حاضر وو، له شاه شجاع سره په تماس کې وم. د ډسمبر پر اته لسمه موږ موافقه وکړه چې زموږ پوځیان باید له بالاحصار څخه قشلې ته راسي او د بارکزیو مشران به له اعلیحضرت سره یوه غونډه وکړي او پر دې به بحث ورسره وکړي چې هغه د خپلې پاچهی له صلاحیتونو څخه څونه ګټه اخیستلا سي. دوی د خپل حفاظت لپاره د بالاحصار په لوړه برخه کې خپل محافظین ودرول. کله چې زموږ پوځیان له بالاحصار څخه را ووتل نو اعلیحضرت یا له وارخطایي او یا د سوء تفاهم په اثر د بالاحصار دروازه وتړله؛ او هغه کېدونکی کنفرانس پاته سو. بارکزي دونه خوابدي سول چې ویل یې بیا به هیڅ وخت اعلیحضرت ته دغه ډول شرایط وړاندي نه کړي. اعلیحضرت وایی هغه ځکه دا کار وکړ چې هغه کسان چې بارکزیو غوښتل په خبرو کې دې برخه واخلي؛ هغه خلک نه ول چې موافقه ورباندي سوې وه.
اعلیحضرت وتړل × × × ×
دلته لیک ناتمام پاته سوی دی. (کې ص ص ۶۷۴-۶۷۶)
په افغانستان کې د انګرېزي قواوو بشپړه ماته نه یوازې د دوی لپاره یو لوی سیاسي ګوزار سو او د کلونو لپاره یې سیاستمدارانو او تاریخ پوهانو ته د لیکنو او نظر څرګندولو لپاره مواد برابر کړل بلکه ګاونډیو هیوادونو ته یې هم دا وښودله چې د افغانستان نیول او ساتل څه اسانه خبره نه ده. روسیه ، چې په مرکزي آسیا کې به یې یو وخت د انګرېزانو له نفوذ او یا د کومې سیمې د احتمالي اشغال څخه وېره درلوده، هم تر ډېره ځایه بېغمه سوه. میخایل ګریګوریوف، چې شل کاله د لوېدیځې سایبیریا ګورنر وو، په مرکزي اسیا کې د برتانیې د احتمالي حرکت له درکه اطمینان څرګندوي:
« دا به یو څه له امکانه لیرې خبره وي چې اینګلینډ به له بخاراسره د وسلو مرسته وکړي؛ دا نه له دې کبله چې د دوی په مقابل کې فیزیکي او طبیعي خنډونه او موانع موجود دي؛ ځکه چې له پېښور څخه د آمو تر سیند پوري لاره ستړه او نه یوازې سپکې وسلې ورباندي تېرېدلای سي بلکه درانه توپونه هم ورباندي تېرېدلای او انتقالېدلای سي. مګر د وسلو لاره د افغانستان په مستقل هیواد کې تېره سوې ده او افغانان پردیو ملکونو ته اجازه نه ورکوي چې د دوی په خاوره کې وسلې انتقال کړي؛ او انګرېزانو تر اوسه پوري د ۱۸۴۲ کال خطرناک درس نه دی هېر کړی. دوی که بل ځل داسي ګام پورته کاوه او ځانونه یې خطر ته ورکوله نو اووه ځله به غور ورباندي کوي.» (راولنسن ص ۲۷۱)
د افغان او انګلیس د لومړي جنګ څخه وروسته بې حسابه لیکني وسوې . د دغه جنګ او د پوځ او د چارو له سیاسي سستم سره یو له ترټولو سخت مخالف جنرال ناټ وو، چې وروسته یې پر کابل باندې په انتقامي عملیاتو کې برخه واخیستله. جنرال ناټ د کابل له پاڅون څخه څو میاشتې مخکې د اوړي په موسم کې، چې لا مکناټن ته هر څه ګل و ګلزار ښکارېدل ولیکل: « موږ چې دلته را ورسېدلو نو د دې هیواد اوسېدونکو داسې فکر کاوه چې انګرېزانو چې خبره وکړه نو خپله خبره مقدس حیثیت ورته لري او له خپله قوله نه تیرېږي. اوس له چا سره هغه عقیده نسته. موږ چې د هر څه تضمین کړی وو او موږ چې هره وعده کړې وه هغه مو تر پښو لاندې کړه. د مجازات او ډېر سخت انتقام ورځ به را ورسیږي. ما ویل چې را وبه رسیږي؟ هغه ورځ دادی را رسېدلې ده. افغانانو د وخته خپلې توري تېرې کړې دي. په غرونو او کلیو کې د افغانانو یاغي سندري آزانګې کوي او د قتل عام او وینو بوی یې ځي. زما دا خلک خوښ دي او زه کولای سم چې د هغوی په تر ټولو لیرې او لوړو غرونو کې دوی ته ځان یوازې وسپارم. کله چې زه د غلجیو سیمو ته ورغلم نو هغوی ډېر ژر یوه سول چې څوک د دوی شته منې لوټي او څوک یې ساتنه کوي. زما خیمه به خلکو له ډکه وه او ماته به یې زاری کولې چې د یوه خدمت ږغ ورباندي وکړم او ما ته یې ویل چې ته هر څه غواړې موږ ته ووایه او امر وکړه. دا هغه خلک ول چې نه د پاچا او نه د سیاسي استازي خیمې ته ور نیژدې کېدل او چې د هغوی به یو سړی په کار سو په ټولو کې یې څوک د کار لپاره نه سوای پیدا کولای. د غلجیو یو مشر زما خیمې ته راغی او په ډېره زړه ورتیا یې راته وویل« مخکې له هغه چې ته دلته راسي زموږ سره بې اندازې وحشت سوی دی. اوس به څرنګه څوک حاضر سي چې ستاسره د عسکري بارک په جوړولو کې مرسته وکړي؟ تا زموږ سره عدالت او ښه سلوک کړی دی موږ ته ستا د خپل شخصي خدمت ووایه موږ ټول درته حاضر یو. » یو څوک چې دونه احمق یا دونه ټنبل سي چې خپلې ټولی ته عسکري انضباط نه سي ورښودلای نو مقاماتو ته ټیټ او پاس کیږي او هغوی یې هم په سیاسي دفتر کې په کار وګوماري او په عسکري قطعه کې سیاسي استازیتوب ورکړي. هغه نو طبعاً داسې کارونه کوي چې د ده د حکومت او هیواد د بدنامی سبب سي. مخکې له هغه چې زه له هندوستان څخه را ووزم، دا صحنې زما مخې ته تیرې سوې دي. هغه پوځیان چې ما نن ولېږل ښایي کار یې حکومت ته ډېر ګران تمام سي او صاحب منصبان او عسکر باید له ۱۲۰ څخه تر ۱۳۰ درجې فارنهایټ تودوخه کې کار وکړي؛ او دا ټول د یوه احمق سیاسي آمر د عمل تاوان دی چې موږ ته را رسیږي. هغه سیاسي آمر داسې یو کلی تباه کړی دی چې یوازې دیرویشت تنه پکښې اوسېدل. ده ولې دا کلی تباه کړ؟ دا ځکه چې ده فکر کړی وو چې د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه کلي خلکو ده ته له دې امله ته په سپک نظر کتلي وه چې له ده سره، بې ضرورته، دوه سوه تنه سپاره بدرګه ورسره وه! که زه هلته وای نو ده ته مې تر اته تنه زیات محافظین نه ورکول. په هغه صورت کې به نو ده له کلیوالو سره انساني وضع کړې وای او یا لړترلږه وحشیانه سلوک به یې نه وای کړی. تاسې فکر وکړی چې له یوه ځوان افسر سره دوه سوه تنه بدرګه د څه لپاره استول کیږي؟ زما سره یو ساتونکی هم ملګری نه وي مګر په دغه سیمه کې تر اتو او لسو میلو پورې یوازې پر آس باندې سپور ځم او اکثر وختونه خپل اردلی هم راسره ملګری نه وي. زه د دوی باغونو او کلیو ته ورځم او خلک په ورین تندي زما هرکلی کوي. بیا هم، زه وایم، چې زه د خپل وطن له خلکو څخه شرمیږم چې دا خبره کوم چې زه تر ټولو پاته بلوڅ تر ډیرو خلکو بهتر بولم. دغه نن سهار مې، د مارش په وخت کې، له دوو انګلیسیانو څخه، چې خپل ځانونه شریف او د قدر وړ خلک بولي، واورېدله چې ویل یې د دې وطن د هر اوسېدونکي غاړه باید غوڅه سي! او ولې؟ ځکه چې دغه بدبختان، د خپلو ښځو، ماشومانو او شته منیو څخه د دفاع په منظور، کله کله، زموږ پر عسکرو باندې یو نیم ډز کوي. (کې ص ص ۳۵۰-۵۱)

داچې انګرېزانو پر افغانستان باندې څومره ظلم وکړ. څومره کلي یې وسوځول او څومره بېګناه خلک، ښځې او ماشومان یې قتل کړل، داسې یو حقیقت دی چې د اثبات لپاره یې موږ د جنرال ناټ خبرو ته چنداني ضرورت نه لرو. پخپله د یوه مستقل هیواد پر خاوره باندې تیری کول، پرخلکو باندې یې خپل یو ګوډاګی د پاچا په حیث تحمیلول او د هغوی د خپل مشر او مشرانو له منځه وړل یو نه بخښل کېدونکی جنایت دی. او نور چې هر څه پیښیږي هغه د دغه لوی او عمومي جنایت محصول دی. پر دې حقیقت باندې د دوی خپلو مورخینو، سیاسیونو او ژورنالیستانو اعترافونه کړي دي.

البته د جنرال ناټ دا خبرې له مبالغې خالي نه دي چې وایی دی د غلجیو په سیمه کې له خپل کمپ څخه اته او لس میله لیرې، په یوازې سر د هغوی کلیو او باغونو ته ورغلی دی او خلکو یې ډېر تود هرکلی کړی دی؛ او دا هم ځکه چې ده له خلکو سره بې موجبه بې عدالتي نه وه کړې. د افغانستان خلکو یوازې د برنس او مکناټن په مقابل کې نه بلکه د ټولو پردیو یرغلګرو په مقابل کې پاڅون کړی وو او هر انګرېز ته یې د دښمن په سترګه کتل او چې تر څو پورې یې ټول پردي ایستلي او وژلي نه وه تر هغه وخته پورې کرار نه کښېنستل. له خاورې او ناموس سره مینه، له پردیو یرغلګرو سره مقاومت او له پردیو څخه نفرت د افغانانو د وینو خصوصیت دی.

افغانانو په ژوند کې انګرېزان لیدلي نه وه او له هغوی سره د ګوزارې کولو او عمر تېرولو خبره خو بېخي مطرح نه ده نو هغوی به څرنګه پوه سوي وه چې انګرېزان پر قول ولاړ خلک دي. او که په دې حقیقت پوه سوي هم وای د انګرېزانو په مقابل کې د هغوی نفرت ځکه نه کمېدی چې هغوی انګرېزانو ته، په هرصورت، د کفارو په سترګه کتل. حقیقت خو دا دی چې انګرېزانو، برعکس، هیڅ وخت له چا سره پر خپل قول وفا نه کړې او نه یې عادت دی. موږ ولیدل چې انګرېزانو په یوه کال کې له ایرانیانو سره د افغانانو پر ضد او له افغانانو سره د ایرانیانو پر ضد تړونونه لاسلیک کړي دي. دلته به دوی څرنګه پر قول د درېدلو او اعتماد کولو خبره وکړي؟

بمبیي ټایمز ورځپاڼې د دې غیرعادلانه جنګ په پای کې د بېځایه تویو سویو وینو او د دوارو خواوو د تلفاتو په باره کې یو دقیق رپوټ خپور کړ. «د ۱۸۳۹ کال د نومبر د میاشتې څخه، چې د سرجان کین او سر ویلشایر پوځونه له افغانستان څخه ووتل، بیا د ۱۸۴۱ کال د نومبر تر میاشتې پورې زموږ پوځیانو له دښمن سره څلوردېرش نښتې کړي دي چې په بېلو بېلو حملو کې له پنځوسو څخه نیولې تر دوو زرو تنو پورې پوځیانو برخه اخیستې ده. په دې جګړو کې زموږ تلفات ۱۵۰۰ مړه او ټپیان دي او له یاغیانو څخه پنځه زره تنه وژل سوي دي. پر دې برسېره ۲۵۰۰ افغانان د جګړې په پیل کې له منځه تللي دي. ګواکې د ۱۸۳۹ کال د فبرورې څخه د ۱۸۴۱ د اکتوبر تر میاشتې پورې موږ ۷۵۰۰ افغانان ووژل. بیا مو هم دوی نمک حرامه بلل؛ ځکه چې موږ له دوی سره د وینو پیوند جوړ کړی او دوی زموږ احسان نه وو منلی. د وینو دا پیوند موږ په راتلونکي کال کې د ۵۰۰۰ نورو افغانانو په قرباني کولو سره ښه ټینګ کړ! په دې توګه د وژل سویو افغانانو شمېر ۱۲۵۰۰ تنو ته ورسېدی. د ۱۸۴۲ کال د ډسمبر له میاشتې څخه مخکې زموږ خپل ۱۸۰۰۰ پوځیان او د کمپ نوکران او خدمه ووژل سول. » (بوییسټ ص ۲۸۵)

پر افغانستان باندې د انګرېزانو د یرغل په لومړیو شپو ورځو کې، یعني له کندهار څخه د کابل پر لور د حرکت په وخت کې، د پنجاب واکمن رنجیټ سینګه هم مړ سو. د هغه له مړیني سره نه یوازې په پنجاب کې ثبات له منځه ولاړ بلکه له برتانیې سره د پنجاب د واکمنانو په اړیکو او دوستي کې هم بشپړ تغییر منځته راغی. د سیکهانو په قلمرو کې نه یوازې د انګرېزانو د پوځي کاروانونو پر وروستی برخې باندې حملې کېدلې او په مالونو بار حیوانات به یې ورځخه بېول بلکه داسې باوري رپوټونه موجود وه چې د سیکهانو لویو مشرانو په لاهور او را ولپینډی کې د افغاني یاغیانو مشرانو ته پناه ورکوله او هغوی ته یې په پنجاب او پېښور کې پوځي مرکزونه په اختیار کې ورکول څو له هغو ځایونو څخه پر افغانستان باندې حملې وکړای سي. د سیکهانو سرداران که څه هم په نامه د انګرېزانو متحدین ول مګر ټولو په افغانستان کې د برتانیې د قواوو ماته غوښته. په هند کې انګرېزي مقامات ځکه له لویې ستونزې سره مخامخ ول چې کابل ته د دوی د مرستو رسولو لنډه لار د پنجاب د واکمن په قلمرو کې تېرېدله او چې هغه سیمه ورته خرابه سوه نو بیا خپلو قواوو ته د اکمالاتو په رسولو کې له سختو ستونزو سره مخامخ ول. جان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کالوین، چي مخکي د مکناټن سکرټر وو، لارډ اکلینډ ته ولیکل چي پنجاب باید له هند سره وتړل سي او کنه نو زموږ اکمالاتي لاري ته خطر متوجه کوي. ده
لیکلي وه چي تر اوسه لا بحراني حالات نه دي راغلي مګر په چټکی سره هغي خواته روان دي. (ډال ریمپل ص ۲۳۳)

نوربیا

ماءخذونه

۱: کهزاد، احمدعلي. بالاحصار کابل و پیش آمد های تاریخي. پېښور پاکستان. ۱۳۷۸
۲: رشتیا، سیدقاسم. افغانستان در قرن نزده. کابل دولتي مطبعه. ۱۳۴۶
۳: کاتب، فیض محمد. سراج التواریخ. کابل. مطبعه حروفي دارلسلطنه کابل. ۱۳۳۱
۴: هراتي، محمدحسین. واقعات شاه شجاع. مطبعه عمومي کابل ۱۳۳۳
۵: حبیبي، پوهاند عبدالحی. تاریخ مختصر افغانستان. چاپ ۱۹۸۹.
۶: غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. کابل ۱۹۶۷.
۷: خافي، میرزا یعقوب علي. پادشاهان متاخر افغانستان. کابل ۱۳۳۴.

8: Correspondence. Persia and Afghanistan. London. 1839.
9: Mohan Lal. Life of Amir Dost Mohammed Khan of Kabul Vol 2. Karachi, Pakistan. 1978.
10: Ferrier, J.P. History of the Afghans. London. 1858.
11: Dalrymple, William. Rrturn of a King. London 2013.
12: Frontier and Overseas Expeditions from India Vol3. Quetta Pakistan 1982.
13 : Kaey, John Willim. History of the War in Afghanistan Vol1and 2. New Delhi 1999.
14: Stocqueler, J.H. Momorials of Affghanistan. Peshawr Pakistan 1983.
15: Cunningham, J.D. History of the Sikhs. Delhi Reprint 1990.
16: Malleson, G.B. History of Afghanistan. Reprint 1984. Peshawar, Pakistan.
17: Watson, Robert Grant. A History of Persia from the Beginning of the Nineteenth Century to the Year 1858. London 1866.
18: Jeffery, J. Roberts. The Origins of Conflict in Afghanistan. London 2003.
19: Bellew, Henry Walter. The Races of Afghanistan. Reprint Pakistan 1979.
20: Lawrence, Sir George. Forty Three Years in India. London 1874.
21 Sita Ram . From Sepoy to Subedar. London. 1873.
22: Rawlinson, Major Gen. Sir Henry. England and Russia in the East. London 1874.
23: Buist, L.L.D. Outline of the Operations of the British Troops in Scinde and Afghanistan. Bombay: Printed and published at the Times Office.
24: Lady Sale. A Journal of the Disasters in Afghanistan, 1841-1842. London 1843.
25: Eyre, Vincent. The Military Operations at Cabul. London 1843.
26: Expeditions. Frontier and Overseas Expeditions from India, Vol3. Second Edition Published in Pakistan. 1982.
27: Papers, Related to Military Operations in Afghanistan. London, 1843.
28: Forrest, George. W. Life of Field-Marshal Sir Neville Chamberlain. London. 1909.

عبدالباري جهاني

شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه, اووه دیرشمه برخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ